# د قبر ملګري

## د شبِ براءَت د اِجتماع بیان

3 فروري، کال 2026ء

(بمطابق: 15 شعبان، کال 1447ھ)



د شبِ براءَت د اِجتماع بيان

3 فروري، کال 2026ء (بمطابق: 15 شعبان، کال 1447ھ)

(د نهې او د شروع ترمينځه شپه)

# د قبر ملګري

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات
- ...ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام ټولو ته ګوري
- ... د سورۀ مُلک د لوستلو اِنعام
- ... د مسلمان زړۀ ته د خوشحالۍ داخلولو ثواب

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

يو بزرګ تير شوے دے: شيخ ابو **حَفْص** کاغذي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه . هغوئي چې کله وفات شو نو يو څو ورځې پس يې خپل دوست له په خوب کښې تشريف راوړلو، دوست ترينه پوښتنه اوکړه: څۀ حالات دي؟ په قبر کښې درباندې څۀ تير شول؟ اوئې فرمائيل: په ما ډير لوئې کرم وشو، واقعه څۀ داسې وشوه چې کله زۀ په قبر کښې دفن کړے شوم نو منکر نَکِير (يعني په قبر کښې پوښتنه کوونکې فرښتې) راغلې، هغوئي زۀ کښينولم او پوښتنې يې رانه شروع کړې، په دې کښې د **الله** پاک فرمان راغلو: اے فرښتو! ودريږئ...!! فرښتے ودريدلې. بيا حُکم وشو: د دې بنده ګناهونه وشميرئ! فرښتو زما ګناهونه وشميرل، بيا خو زۀ ويريدم چې د دومره ګناهونو باوجود به زۀ څنګه بخښلے کيږم. هلته فرښتو ته حُکم وشو: دې بنده چې په دُنيا کښې زمونږه په خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کوم درود شريف لوستلے دے، اوس هغه وشميرئ! فرښتو زما لوستلے شوے درودِ پاک وشميرلو. د خوش قِسمتئ نه زما لوستلے شوے درودِ پاک زما د ګناهونو نه زيات وو. نو فرښتو ته حُکم وشو: حَسْبُكُمْ يَا مَلَائِكَتِیْ! اے زما فرښتو! هُم

دومره حساب کافي دے. اِذْهَبُوْا بِهٖ اِلٰی جَنَّتِیْ دا بنده زما جَنَّت ته بوځئ! (یعنې د دهٔ قبر د جَنَّت باغ جوړ کړئ!) (1)

| | |
|---|---|
| ذاتِ والا پہ بار بار دُرود | بار بار اور بے شُمار دُرود |
| بے عدد اور بے عدد تسلیم | بے شمار اور بے شُمار دُرود |
| گورِ بیکس کو شمع سے کیا کام | ہو چراغِ سَرِ مَزار دُرود |
| قبر میں خوب کام آتی ہے | بیکسوں کی ہے یارِ غار دُرود |
| جان نکلے تو اس طرح نکلے | تجھ پر اے غمزدوں کے یار دُرود |
| دل میں جلوے بسے ہوئے تیرے | لب سے جاری ہو بار بار دُرود |
| اے حَسَن خارِ غم کو دِل سے نکال | غمزدوں کی ہے غمگُسار دُرود (2) |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! خومره ښکلې خبره ده ❀ د قبر د حِساب نه ❀ د قبر د عذاب نه ❀ د مُنکر نَکِیر د سوالونو نه د نجات موندلو بهترینه وظیفه ده، ډیر ډیر درود شریف لوستل: ځکه مونږ له پکار ده چې ډیر ډیر دُرُودِ پاک وایُو!

الله پاک دې مونږ ته په کثرت سره [یعنې د ډیر ډیر] دُرُودِ پاک لوستلو توفیق راعطا کړي. خواجه ضیاءُ الدِّین رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه لیکلي دي: کوم بنده چې نیک نـمونځ ګزاره وي او په کثرت سره درودِ پاک لولي، کله چې هغه وفات شي او قبر ته کوز کړے شي نو ❀ منکر نَکِیر (یعنې په قبر کښې د سوالونو پوښتنه کوونکې فرښتے) د هغه سره معمولي شان حِساب کوي ❀ بیا د هغهٔ قبر د نظر د حده پورې پراخه کړے شي ❀ قبر پهٔ نُور باندې روښانه شي ❀ بیا پهٔ دې کښې د هغهٔ جَنَّتي کور ودانه قبر ته راورسي، د هغې پهٔ

---

1…القول البدیع، صفحه:124۔

2…ذوقِ نعت، صفحه:125123 ملتقطًا۔

غاړه کښېږي د ملغلرو هار وي، څنګه چې دا بنده د هغه هار طرف ته اِشاره کوي نو هار وشلېږي او وغورځېږي، د دهٔ جَنَّتي کور ودانه وائي: د پريشانۍ خبره نشته، مونږ دا ملغلرې راټولوو. دا دواړه پهٔ شريکه ملغلرې راټولول شروع کړي. **بس لا به دوئي دا ټولې ملغلرې راټولې کړې هم نهٔ وي چې قيامت به قائِم شي. (1)**

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د دُرُودِ پاک پهٔ برکت سره ❁د قبر د تنګ والي نه هم نجات حاصلېږي، ❁د هغه ځائے وحشت او تنهائي هم لرې کېږي ❁او د قبر د ډېرو کلونو قيام هم پهٔ يو څو ساعتونو کښې تير شي.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اوس خو هسې هم د شعبان مياشت يعنې د درود او سلام مياشت روانه ده. سرکارِ غوثِ اعظم، شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هُوَ شَهْرُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ يعنې شعبان په خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د درود وئيلو مياشت ده. (2)

ټول اسلامي وروڼه د درود او سلام مياشت په پوره جذبې سره ولمانځئ ❁په خپلو کورونو کښې د ټول کور والؤ سره په شريکه، ❁په دفترونو، فيکټرو او دکانونو کښې د خپلو ملازمينو سره، ❁په جوماتونو کښې د نمونځ ګزار او د محلې والؤ په راجمع کولو سره د درود او سلام محفلونه جوړ کړئ، او په خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډېر ډېر درود او سلام پيش کړئ. الله پاک دې مونږ ته د ډېر ډېر دُرُودِ پاک لوستلو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرود پڑھو | مُحِبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر دُرود پڑھو

1...برکاتِ درود، صفحه:17۔

2...غنیۃ طالبین، مجلس فی فضل شھر شعبان، جلد:1، صفحه:342۔

جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو
ہر ایک کام میں تم پیش تَر دُرود پڑھو

ہزار درد کو یہ ایک دَوا کِفایت ہے
جو پیش آئے ذرا بھی خطر دُرود پڑھو

خدا تو بھیجے ہے صَلُّو وسَلِّمُو کا خِطاب
تم ایسے بیٹھے ہو کیوں بے خبر دُرود پڑھو

(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے.[2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښینم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ❁ نن د شَعبَان شریف پینځلسمه شپه ده یعني شَبِ براءَت دے ❁ ډیره د برکتونو والا ❁ د عظمتونو والا ❁ د خیرونو والا شپه ده ❁ په ننۍ شپه دُعاګانې قبلیږي ❁ رزق تقسیمولے کیږي ❁ او د ټول کال د رزق فیصله په ننۍ شپه کیږي. په حدیثِ پاک کښې دي: کله چې د شعبان مینځنۍ (یعني پینځلسمه شپه راشي نو پهٔ دې شپه کښې قیام (یعني عبادت) کوئ، د ورځې روژه نیسئ، بے شکه

1...نورِ ایمان، صفحه:5756 بتقدم وتاخر۔

2...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

پهٔ دې شپه د نمر د پرېوتو سره **اللّٰه** پاک د خپل شان مطابق د دُنيا پهٔ اسمان باندې تجلِّي فرمائي او اِرشاد فرمائي: ❁ اَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ لِیْ فَاَغْفِرَ لَهٗ شته څوک زما نه د بخښنې غوښتلو والا چې زهٔ يې معاف کړم ❁ اَلَا مُسْتَرْزِقٌ فَاَرْزُقَهٗ شته څوک زرق غوښتلو والا چې زهٔ هغهٔ ته رزق عطا کړم ❁ اَلَا مُبْتَلًى فَاُعَافِيَهٗ شته څوک پرېشانه چې زهٔ د هغهٔ پرېشانی لرې کړم، **شته څوک داسې، شته څوک داسې، د سحر کيدو پورې هم داسې اِعلان کيږي.** [(1)]

کِشتِ اُمّید پہ ہے فضلِ خُدا آج کی رات
ہر طرف چھائی ہے رحمت کی گھٹا آج کی رات

کس قدر جوش پہ ہے حق کی عطا آج کی رات
پائیں گے سارے طلب سے بھی سِوا آج کی رات

مغفرت ڈھونڈتی پھرتی ہے گنہ گاروں کو
مہرباں کتنا ہے بندوں پہ خُدا آج کی رات

کوئی محروم نہ رہ جائے زمیں پر سائل
آسمانوں سے یہ آتی ہے صدا آج کی رات

يو شاعِر ليکلي دي:

آئی شَبِ براءت، یہ ہے برکتوں کی رات
لطف و کرم کی رات ہے، یہ رحمتوں کی رات

بارانِ فضل ہوتا ہے اس شب کو ہر گھڑی
خوش بخت ہے جسے ملی یہ عظمتوں کی رات

جو چاہتے ہو، تم کو کرے گا خدا عطا
اس کی عنایتوں کی ہے یہ نعمتوں کی رات

غم کا علاج آج کی شب دستیاب ہے
یہ جاں فزا ہیں ساعتیں، یہ فرحتوں کی رات

کر لو مرض کے واسطے رب سے دُعا بھی
یہ ہے شفا کی رات، یہ ہے راحتوں کی رات

دامن بڑھاؤ مانگ لو خیراتِ مغفرت
اے عاصیو! ہے جلوہ نمارافتوں کی رات

راضی کرو تمام جو ناراض تم سے ہیں
صلح و صفا کی رات ہے، یہ قُربتوں کی رات

**اللّٰه** پاک دې زمونږ د ننۍ د مقدسې شپې برکتونه نصيب کړي، کاش چې د

1...ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة والسنة فیها، باب ما جاء فی لیلة...الخ، صفحه:225، حدیث:1388۔

ننۍ شپې پهٔ برکت زمونږ د ګنهګارانو بخښنه او مغفرت نصيب شي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

مغفرت کا ہوں تجھ سے سُوالی | پھیرنا اپنے دَر سے نہ خالی

مجھ گنہگار کی اِلتجاء ہے | یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله د مِعراج پهٔ شپه د اسمانونو سيل کولو، هٰغه وخت هغوئي پهٔ څلورم اسمان کښې يوه فرښته ناسته وليدله، يوه لويه تخته د هغه مخې ته پرته وه، هُم پهٔ خوا کښې ورسره يوه غټه ونه وه، د کومې ښاخونه چې د مشرق نه د مغرب (***East to West***) پورې خوارهٔ وو، هٰغه فرښتے د هٰغې ونې طرف ته پهٔ غور سره کتل. خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام ته وفرمائيل: دا فرښته څوک ده؟

حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا ❁ د خوندونو ختموونکے ❁ د دوستانو جدا کوونکے ❁ د ښځو کونډه کوونکے ❁ او د ماشومانو يتيمانو کوونکے ❁ او د اوچتو اوچتو محلونو ورانوونکے ❁ او د هديرو ابادوونکے يعني ملک المَوت حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام دے.

بيا حضرت جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَام حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام ته ووئيل: اے

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:136۔

عزرائيله (عَلَيْهِ السَّلَام)! دا د مخکښينو وروستنو سردار، محبوبِ رَبِّ غفار حضرت مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے. دا يې چې واوريدل نو حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام راپاڅيدو، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره يې سلام اوکړو، د رسول اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره يې د غاړې ميلاوهلو سعادت حاصل کړو او د محبت نه يې د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تندے ښکل کړو او د ځان په خوا کښې يې د تشريف فرما کيدو خواست اوکړو. بيا يې عرض اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! څۀ اِراده لرئ (يعنې زما د پاره څۀ حُکم دے؟) خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دا چې کومه تخته ستاسو مخې ته ايښودے شوې ده، دا څۀ دي؟ عرض يې اوکړو: **اللّٰه** پاک د ټول مخلوق رُوحونه زما په قبضه کښې راکړي دي، په دې تخته باندې د هغې تفصيل ليکلے شوے دے، د دې په ذريعه زۀ د هغې حساب لرم.

خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترينه پوښتنه اوکړه: دا دومره غټې ونه څۀ دي؟ عرض يې اوکړو: د دې ونې پاڼې د مخلوق د شميرې همره دي، داسې هيڅ يو اِنسان نشته د کوم د نوم پاڼه چې په دې ونه کښې نۀ وي، کله چې څوک بيمار شي نو د هغه د نوم پاڼه زيړه شي، د هغې نه ما ته معلومه شي چې فلانکے اِنسان بيمار دے. بيا هغوئي يو لوښے وښودلو او عرض يې اوکړو: کله چې پاڼه زيړه شي نو زۀ د دې لوښي اوبه په دې باندې ترمکيا کړم، که پاڼه خپل اصلي حالت ته راشي نو مطلب دا چې هغه اِنسان به شِفا بيامومي، که پاڼه مخکښيني رنګ ته رانشي بلکې توره شي نو ما ته معلومه شي چې د هغۀ د مرګ وخت راغلے دے. زۀ دې پاڼې ته ګورم، کله چې هغه د ونې نه راورژيږي نو مطلب چې د هغه د مرګ وخت راغلے دے، بيا که هغه اِنسان نيک وي نو زۀ د هغۀ خوا له په ښۀ شکل او حالت کښې لاړ شم او د هغۀ رُوح قبض کړم او په راحت او خوشبو کښې يې کيږدم، که هغه ګنهګار وي نو د هغه خوا له په خطرناک

شکل کښې څم، هغه چې ما ووینې نو چغې کړي: اے ملک المَوت عَلَیْهِ السَّلَام ! زما ګناهونه زیات شو، زما اعمال نامه په ګناهونو باندې توره شوه، آه! اوس د رخصتیدو وخت راغلے دے، ما له لږ مهلت راکړئ! د پاره د دې چې زۀ د **اللّٰه** پاک په حضور کښې څۀ اوښکې تویې کړم، لږ وخت راکړئ چې زۀ د خپلو ګناهونو نه توبه کړم. زۀ وایم: ناممکن...!! دا خو بالکل ناممکنه خبره ده. بیا زۀ د هغۀ رُوح قبض کړم. [1]

| | |
|---|---|
| دِلا غافِل نہ ہو یکدم یہ دُنیا چھوڑ جانا ہے | بغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے |
| تُو اپنی موت کو مت بُھول کر سامان چلنے کا | زمیں کی خاک پر سونا ہے اینٹوں کا سرہانا ہے |
| نہ بیلی ہو سکے بھائی، نہ بیٹا، باپ تے مائی | تُو کیوں پِھرتا ہے سودائی عمل نے کام آنا ہے |
| عزیزا! یاد کر جس دِن کہ عزرائیل آئیں گے | نہ جاوے کوئی تیرے سنگ اکیلا تُو نے جانا ہے |
| غُلامؔ اک دَم نہ کر غفلت، حیاتی پر نہ ہو غَرَّہ | خُدا کی یاد کر ہر دَم کہ جس نے کام آنا ہے |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## څوک مرګ زیات یاد ساتي...؟

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې عبرتناک روایت نه معلومه شوه چې په مونږ کښې د هر یو د مرګ وخت مقرر دے، حضرت ملک المَوت عَلَیْهِ السَّلَام هر وخت زمونږ طرف ته ښۀ په غور ګوري او ناست دے، کله چې د چا وخت پوره شي، بیا د یو ساعت مهلت هم نۀ ورکوي، فوراً د هغۀ رُوح قبض کړي. آه! افسوس چې مونږ د حقیقت نه خبر هم یو، منو یې هم خو ځان مو قصداً عمداً ناجاره کړے دے، په غفلت کښې پراتۀ یو، یاد ساتئ چې که مونږ مرګ یاد ساتو او که یاد یې نۀ ساتو، که

1...سُلْوَۃُ الْعَارِفِین، باب ذکر ملک الموت، جلد:2، صفحه:212 215 ملتقطًا۔

مونږ پهٔ نیکو اعمالو کولو د اخرت تیاري اوکړو او که نهٔ، مرګ به بهر حال راځي او ضرور به راځي، حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام نهٔ مخکښې چا له مهلت ورکړے دے او نهٔ به یې مونږ له راکوي. ځکه عقلمند هغه دے څوک چې هُم پهٔ ژوند کښې مرګ یاد وساتي او د دې د پاره تیاري کوي. پهٔ 29 سیپارهٔ سورهٔ مُلک، آیت: 2 کښې **الله** پاک فرمائي:

اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَ الْحَیٰوةَ لِیَبْلُوَكُمْ اَیُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغه ذات چا چې مرګ او ژوند پیدا کړل د پاره د دې چې ستاسو ازمیښت اوکړي چې پهٔ تاسو کښې څوک زیات ښه اعمال کوونکے دے.

علمائے کرامو د دې آیت یوه معنیٰ دا بیان کړې ده چې **الله** پاک ژوند او مرګ پیدا کړو د پاره د دې چې ستاسو ازمیښت اوشي چې پهٔ تاسو کښې څوک مرګ یاد ساتي او د دې د پاره پوره تیاري کوي؟ (1)

## حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام ټولو ته ګوري

اِمام جلال الدین سیوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي: حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام روزانه هر کور ته 5 کرته او د یو روایت مطابق 7 کرته تشریف راوړي او ګوري چې دلته څوک خو داسې نشته د چا د رُوح د قبض کولو حکم چې راکړے شوے وي. (2)

**الله! الله!** خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې څومره د عبرت خبره ده، مونږ د غفلت ښکار اوسو، پهٔ ګناهونو کښې مشغول اوسو، بل طرف ته د خوندونو ختموونکے حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام هر وخت زمونږ پهٔ انتظار کښې ناست دے،

1... شُعَبُ الْاِیمان، باب: فی الزہد و قصر الامل، جلد: 7، صفحه: 408 ملتقطًا۔

2... شرح الصدور، الباب الثالث عشر باب ما جاء فی ملک الموت و اعوانه، صفحه: 43 ملتقطًا۔

يعنې مونږ د مرګ نه غافله، د دې دُنيا په عارضي او فاني ژوند باندې مطمئين يو او مرګ هر وخت زمونږ په سر باندې ولاړ دے.

| | |
|---|---|
| کتنی بے اعتبار ہے دُنیا | موت کا انتظار ہے دُنیا |
| گرچہ ظاہِر میں صُورتِ گل | پر حقیقت میں خار ہے دُنیا |
| ایک جھونکے میں ادھر سے ہے اُدھر | چار دِن کی بہار ہے دُنیا |
| زندگی نام رکھ دیا کس نے | موت کا انتظار ہے دنیا |

## تا ته يواځې تلل دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د انديښنې او ډيره د انديښنې خبره ده، قبر ته مونږ ټولو له تلل دي خو آه! هلته به زمونږ څوک ملګرے نهٔ وي، نن پهٔ دُنيا کښې که چرته پهٔ سفر تلل وي، مثلاً د شپې ناوخته وي، پهٔ شاړو لارو باندې تلل وي نو مونږ انتظام اوکړو، درې څلور دوستان د ځان سره بوځو خو قبر...!! افسوس چې قبر ډير زيات شاړ دے، هلته هر طرف ته وحشت دے، د ډيرو خطرو نه ډک دے، د دې باوجود هم مونږ هلته څوک د ځان سره نشو بوتللے، د ګرانو نه ګران، زمونږ نه قربانيدونکے زاريدونکے به هم زمونږ سره هلته نشي تللے، يواځې به مو پهٔ خاورو کښې ښخ کړي او واپس به رانه لاړ شي. **الله** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّ تَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ج (پاره:7، سورۀ انعام:94)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه تاسو مونږ له يواځې راغلئ څنګه چې مونږه تاسو پهٔ اول ځل پيدا کړي وئ او تاسو شا ته پريښودل هغه ټول مال او متاع کوم چې مونږ تاسو له درکړي وو.

دِلا غافل نہ ہو یک دَم یہ دنیا چھوڑ جانا ہے
بغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے

ترا نازُک بدن بھائی جو لیٹے سَیج پھولوں پر
یہ ہو گا ایک دن بے جاں اِسے کیڑوں نے کھانا ہے
تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا
زمیں کی خاک پر سونا ہے اِینٹوں کا سِرہانا ہے
نہ بَیلی ہو سکے بھائی نہ بیٹا باپ تے مائی
تُو کیوں پھرتا ہے سَودائی عمل نے کام آنا ہے

## مونږ هم ستاسو په شان وو

حضرت یزید بن شُرَیح رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: یوه ورځ زهٔ هدیرې ته لاړم، ما د یو قبر نه اواز واوریدو، چا ویونکي وئیل: نن تاسو مونږ په دې حال کښې (په خاورو کښې دفن) وینئ، چرته مونږ هم ستاسو په شان وو، هم ستاسو په شان ژوند به مو تیرولو، هم ستاسو په شان شکل او صورت مو لرلو خو افسوس...!! اوس دا شاره ده، چرته چې هواګانې او دوره الوځوي او مونږ په دې شاره کنده کښې قید یو، په مونږ کښې به څوک هم ستاسو طرف ته نهٔ واپس کیږي خو آؤ! تاسو به ډیر زر زمونږ خوا له راشئ. (1)

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا خبره رښتیا ده، واقعي چې رښتیا ده، تاسو دا حقیقت په خپل زړهٔ او دماغو کښې کښېنوئ! یا یې مهٔ کښېنوئ! د قبر د وحشت خیال هم اخوا کړئ خو چرې هم نهٔ بدلیدونکي رښتیا هم دا دي چې کوم حالت نن د هدیرې والؤ دے، ډیر زر به زمونږ هم دغه حالت وي. آه! ❁ زمونږ د غوښې نه ډک سرهٔ اننګي د کومو په لیدو چې مونږ خوشحالیږو، ډیر زر به قبر ته کوز

1...موسوعہ ابن ابی دنیا، کتاب القبور، جلد:6، صفحہ:59، رقم:18۔

شي او دا غوښه به ورژيږي ❁ زمونږ ښکلي ښکلي سترګې به وِيلې شي او وه به بهيږي ❁ د طاقت ورو مَټو ټول زور به مو اوبه شي ❁ پنډۍ به مو ماتې شي او د خاورو سره به يو ځائے شي ❁ لويه سينه د کومو سره چې پهٔ ګرځيدو خوشحاله يو ډير زر به ماته راماته شي. آه! افسوس! کوم حال چې نن د هديرې والؤ دے، ډير زر هغه حال زمونږه هم کيدونکے دے.

| | |
|---|---|
| گھُپ اندھیرے کا بھی وَحشت کا بسیرا ہو گا | قبر میں کیسے اکیلا میں رہوں گا یاربّ! |
| گر کفن پھاڑ کے سانپوں نے جمایا قبضہ | ہائے بربادی! کہاں جا کے چُھپوں گا یاربّ! |
| ڈنک مچھر کا سہا جاتا نہیں، کیسے میں پھر | قبر میں بچھّو کے ڈنک آہ سہوں گا یاربّ! |
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی | ہائے! میں نارِ جَہَنَّم میں جلوں گا یاربّ! |
| عَفو کر اور سدا کے لیے راضی ہو جا | گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یاربّ! (1) |

## مړي ته چې درې ورځې پس وګورې نو...!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ به ضرور مړهٔ کيږو، قبر ته به خامخا کوزيږو خو آه...!! د قبر معامله اسانه نهٔ ده. حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو ځل خپل يو ملګري ته وفرمائيل: وروره! د مرګ ياد زما نه خوب تښتولے دے، زهٔ ټوله شپه ويښ ووم او د قبر پهٔ باره کښې مې سوچ کولو. اے وروره! که تهٔ درې ورځې پس مړے د هغه پهٔ قبر کښې ووينې نو پهٔ دُنيا کښې د ډيرې مودې پورې د هغهٔ سره د پاتې کيدو باوجود به تهٔ د هغهٔ نه ويريږې، که تهٔ د هغهٔ د کور يعنې د قبر دننه حصه ووينې ❁ پهٔ کوم کښې چې چينجي ګرځي او بدن يې خوري ❁ د هغه د بدن نه زغوې او نوونه جاري دي ❁ سخا بوئي ترې ځي ❁ د هغه کفن خراب شوے دے. هې! هې! غور خو

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:84-85ملتقطاً۔

اوکړه! دغه مړے چې کله ژوندے وو نو ښکلے وو، خوشبوئي به يـې هم ښه اِستعمالوله، ښې جامې به يـې هم اغوستې...!! راوي وائي: د دومره وئيلو نه پس د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه زړۀ راړوک شو، هغوئي چغه کړه او بے هوشه شولو. (1)

اندھیری قبر کا دل سے نہیں نکلتا ڈر | کروں گا کیا جو تو ناراض ہو گیا یاربّ (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دے پۀ قبرونو کښې دننه د موجودو خلقو حالت، آه! ډير زر زمونږ حالت هم داسې کيدونکے دے.

## زۀ مخکښې بادشاه ووم

روايت دے: يو ځل د الله پاک نبي حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام پۀ يو ځائے تيريدلو، هغوئي د اِنسان يوه کوپړۍ وليدله. هغوئي د الله پاک نبي دے او مړي راژوندي کول د هغوئي خاص معجزه وه، نو هغوئي هُغه کوپړۍ پۀ ښپه ووهله او اوئې فرمائيل: تَكَلَّمِيْ بِاِذْنِ الله د الله پاک پۀ حُکم زما سره خبرې اوکړه!

پۀ دومره فرمائيلو هُغې کوپړۍ خبرې شروع کړې، عرض يـې اوکړو: اے رُوح الله عَلَيۡهِ السَّلَام ! زۀ مخکښې بادشاه ووم، عظيم الشان تاج به زما پۀ سر باندې وو، زما لښکر او وزيران صلاح کاران به ګير چاپيره موجود وو، ناڅاپه، بالکل ناڅاپه ملک المَوت عَلَيۡهِ السَّلَام د چرته نه راښکاره شو، او پۀ لږ ساعت کښې هغوئي زما رُوح قبض کړو، آه...!! هُغه ډک دربار پۀ لږ ساعت کښې پۀ تنهايۍ کښې بدل شو، هی! هی! هُغه رعب او دبدبه، پۀ ما باندې ځان قربانوونکے زما لښکر، هُغه اشنائي او محبت يو دم پۀ وحشت او غريبۍ کښې بدل شو. (3)

1...احياء العلوم، کتاب ذکر الموت و ما بعده، بيان حال القبر و اقاويلهم عند القبور، جلد:4، صفحه:588۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:78۔

3...مکاشفۃ القلوب، باب فی بیان شدۃ الموت، صفحہ:244بتغیر قلیل۔

اَللّٰهُ اَكْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دغه حال دے، آؤ هم دغه حال دے، کوم چې ډير زر په مونږ باندې هم راتلونکے دے، آؤ! آؤ! مونږ ټول هم د دې وحشت او تنهايۍ، غريبۍ او بے وسۍ ښکار کيدونکي يو، چې د بادشاهانو لښکرونو هغوئي بچ نۀ کړے شو نو زمونږ درې څلور دوستان به هم مونږ بچ نۀ کړے شي، که د بادشاهانو تاج او تخت او اوچتو اوچتو محلونو هغوئي د مرګ نه بچ نۀ کړے شو نو زمونږ واړۀ واړۀ کورونه، معمولي عزت او مشهورتيا به هم مونږ بچ نۀ کړے شي، آه! ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام به تشريف راوړي، رُوح به رانه راکاږي، اخري سلګۍ به راځي، سترګې به مو د چت طرف ته وي او دا ټوله دُنيا به د خپلو ټولو ښکلاګانو سره زمونږ د پاره يو دم نا اشنا شي.

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشہ نہیں ہے

ملے خاک میں اہلِ شاں کیسے کیسے
مکیں ہو گئے لامکاں کیسے کیسے

ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے
زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے

یہی تجھ کو دُھن ہے رہُوں سب سے بالا
ہو زینت نرالی ہو فیشن نرالا

جیا کرتا ہے کیا یونہی مرنے والا؟
تجھے حسنِ ظاہر نے دھوکے میں ڈالا

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشہ نہیں ہے

## اِيرې راټولوونکي مړي

**روايت دے:** يو ځل حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام زمکې ته راغلو، د **اللّٰه** پاک نبي حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام يې وليدلو چې هغوئي د سمندر پۀ غاړه باندې يوه چوپړۍ جوړوي، پوښتنه يې اوکړه: اے د **اللّٰه** پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ! دا څۀ دي؟ اوئې فرمائيل: اے جبرائيله! چا له چې مرګ راتلل وي، د هغه د پاره خو دا هم ډيره زياته ده. حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے د **اللّٰه** پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ! ډير زر به يو قوم وي، د

هغوئي عمرونه به د 60 نه د 70 کالو ترمينځه وي خو هغوئي به د خختو او کاڼو نه مضبوط کورونه جوړوي. پهٔ دې اوريدو حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: آه! دا خلق به اِيرې راجمع کوي، د دې پورې چې مړهٔ شي. (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا زمونږه حال دے، زمونږ عمرونه لړ دي خو خوبونه مو ډير لوئي لوئي دي، مونږه ودانۍ جوړوو او د صدو منصوبې جوړوو ❁ پهٔ انجنيئرانو باندې حساب کوو چې ❁ پهٔ ودانۍ کښې څومره سَريا واچوو ❁ څومره سيمنټ واچوو د پاره د دې چې وداني کم از کم د 200 کالو پورې ودانه پاتې شي، آه! ❁ څومره ودانۍ دي کومې چې اوس هم هُغه شان ولاړې دي خو د هغې جوړوونکي قبرونو ته کوز شوي دي ❁ څومره کنډرات پهٔ دُنيا کښې ځائے پهٔ ځائے موجود دي خو د هغې اوسيدونکي فنا شوي دي مړهٔ شوي دي خو افسوس چې مونږ عبرت نهٔ حاصلوو، افسوس چې مونږ نهٔ تيک کيږو.

## پهٔ بے وفا دُنيا باندې اِعتبار مهٔ کوئ

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَسَكَنْتُمْ فِیْ مَسٰكِنِ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ وَتَبَیَّنَ لَكُمْ كَیْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ۝۴۵ (پارہ:13، سورۂ ابراہیم:45) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او تاسو د هغوئي پهٔ کورونو کښې اوسيدلې کومو خلقو چې پهٔ خپلو ځانونو ظُلم کړے وو او ستاسو د پاره بالکل واضحه شوي وو چې مونږ د هغوئي سره څنګه سلوک اوکړو او مونږ ستاسو د پاره مثالونه بيان کړل. |

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د عبرت خبره ده، لږ غور اوکړئ چې دا زمکه چرته چې نن زمونږ کور دے، د نن نه يو څو صدۍ مخکښې سوچ اوکړئ! ❁ هُغه وخت به دلته څوک اوسيدل؟ کيدے شي مونږ ته پته نهٔ وي ❁ هغه څنګه وو؟

1... بُستان الواعظين، صفحه:152-

✿خوراک څښاک يې څۀ وو؟ د هغه سره پيسې څومره وې؟ طاقت ورسره څومره وو؟ کيدے شي چې مونږ ته نۀ وي معلومه ✿ اوس هغه چرته دے؟ کيدے شي چې د هغه د قبر نخښې هم نۀ وي موجودې، دا ده دُنيا...!! اوس لږ د سل، 200 سوه کاله پس پۀ باره کښې سوچ اوکړئ! ✿ اوس چې پۀ کوم کور کښې مونږ اوسيږو، دوه صدئ پس به دلته څوک اوسيږي؟ مونږ ته پته نشته ✿ هغه به څنګه وي؟ ✿ د هغه ژوند تيرول به څنګ وي؟ مونږ ته پته نشته ✿ هُغه وخت به مونږ چرته يو؟ هلته چرته چې زمونږ نه مخکښيني خلق رسيدلي دي، کيدے شي چې هُغه وخت به زمونږ د قبرونو نخښې هم ورانې شوې وي. لکه څنګه چې نن مونږ دا دُنيا هر څۀ ګڼو، کيدے شي چې زمونږ نه مخکښينو خلقو هم داسې ګڼل او ممکن ده چې زمونږ نه پس راتلونکي خلق هم داسې ګڼي **خو حقيقت دا دے چې دُنيا نۀ زمونږ نه د مخکښې راتلونکو سره وفا کړې وه، نۀ به زمونږ نه پس د راتلونکو سره وفا کوي او نۀ هُم زمونږ سره وفا کوي. دا دُنيا د مخکښينو خلقو د پاره هم دوکه وه او زمونږ د پاره هم دوکه ده.**

## دا د اِصلاح کولو وخت دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا اصلي حقيقت دے، زمونږ پۀ ذهنونو کښې به ډيرې منصوبې وي، زمونږ پۀ زړونو کښې به ډير خوبونه وي، مونږه روزانه د خپل صباؤن [يعنې مستقبل] د پاره ډير سوچونه کوو، ډيرې نوې نوې منصوبې جوړوو خو اصلي حقيقت هم دا دے...!! چې کله مَلَک المَوت (يعنې د مرګ فرښته) حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي، بيا به د هغې نه پس هيڅ يوه منصوبه، هيڅ يو خوب پاتې نشي، بيا به صِرف هم يو څيز باقي پاتې وي او هغه زمونږ اعمال دي. ځکه مونږ ته پۀ دې دُنيا کښې پۀ مستقبل کښې څۀ کول دي، ښۀ کور، ښۀ ګاډے، ښه کاروبار، دا هر څۀ زمونږ د مستقبل سوچ دے **خو زمونږه عمل زمونږه د نن ذمه واري ده.** مونږه به خپل دُنياوي

مستقبل ته رسيږو که نهٔ به رسيږو، د دې نه څوک هم خبر نهٔ دي، خو مونږ به قبر ته ضرور کوزيږو، د خپلو اعمالو سره به کوزيږو، د دې نه هر مسلمان خبر دے. ځکه ضروري دي چې مونږه نن او هم د اوس نه د خپلو اعمالو فِکر شروع کړو.

يو ځل حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د يوې جنازې سره هديرې ته تشريف يوړلو، د هغوئي سره يو ځلمے هم وو، هُغه ځلمے پهٔ څهٔ غفلت کښې وو. نو هُغه قبر کوم چې د مړي د پاره تيار کړے شوے وو، حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د هُغه قبر طرف ته اشاره اوکړه او هُغه ځلمي ته يـې وفرمائيل: خپل کور ته وګورهٔ! ځلمي قبر ته وکتل. حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پوښتنه اوکړه: څهٔ درته ښکاري؟ اوئې وئيل: يو تنګ او تيارهٔ کور دے، پهٔ کوم کښې چې نهٔ خوراک شته، نهٔ اوبه، نهٔ کور والا خو زما د دُنيا پهٔ کور کښې خوراک هم شته، اوبه هم شته، کور والا هم دي. حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمائيل: تا رښتيا ووئيل: پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! که تهٔ نن واپس خپل د دُنيا کور ته هم وګرځيدلې، نو بيا به هم تا ته دې تنګ او تيارهٔ کور ته راتلل وي (ځکه بهتره دا ده چې د دې کور د پاره د اوس نه تياري اوکړې!). (1)

## د قبر ملګري

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** يقيناً چې علقمند هم هغه دے څوک چې قبر ته د کوزيدو نه مخکښې د قبر تياري اوکړي، هلته پهٔ کار راتلونکي اعمال د مخکښې نه جمع کړي، راځئ چې يو څو داسې نيک اعمال عرض کړم کوم چې زمونږ د قبر ملګري دي، زمونږ به پهٔ قبر کښې پهٔ کار راځي، د قبر د وحشت او د تنهايۍ نه به مونږ بچ کوي.

---

1... الزہد لاحمد بن حنبل، اخبار عبد اللہ بن عمر، صفحہ:255، حدیث:1137 بتغیر۔

## (1 نه 5) : نـمونځ، روژه، حج او زکوٰة وغيره

د حضرت کعب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې کله نيک اِنسان پهٔ قبر کښې کيښودے شي نو د هغه نيک اعمال، نـمونځ، روژه، حج، جهاد او صدقه وغيره د هغهٔ خوا ته راجمع شي، ❀ کله چې د عذاب فرښتے د ښپو د طرف نه راځي نو نـمونځ وائي: د دهٔ نه لرې اوسئ، ستاسو دلته هيڅ کار نشته، دا به پهٔ دې ښپو ودريدو او د **اللّٰه** پاک عبادت به يــې کولو ❀ بيا هُغه فرښتے د سر د طرف نه راشي نو روژه وائي: ستاسو د پاره د دې طرف نه هيڅ لار نشته ځکه چې پهٔ دُنيا کښې د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره دهٔ ډيرې روژې نيولې وې او اوږده لوږه تنده يــې برداشت کړې وه ❀ فرښتے د هغهٔ د وجود د نورو حصو د طرف نه راځي نو حج او د **اللّٰه** پاک پهٔ لاره کښې وتل وائي چې لرې شئ، دهٔ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره خپل وجود پهٔ تـکليفونو کښې اچولو سره حج کړے وو او د هغهٔ د رضا د پاره د هغه پهٔ لاره کښې وتلے وو ځکه ستاسو د پاره دلته هيڅ ځائے نشته ❀ بيا هغوئي د لاسونو د طرف نه راشي نو صدقه وائي: زما د دوست نه لرې شئ، پهٔ دې لاسونو ځومره صدقې ورکړے شوې دي کومې چې صرف د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره ورکړے شوې وې او د دې لاسونو نه پهٔ وتو هغه د **اللّٰه** پاک پهٔ دربار کښې د قبوليت درجې ته رسيدلې دي، ځکه دلته ستاسو هيڅ کار نشته. بيا هُغه مړي ته ووئيلے شي چې ستا ژوند او مرګ دواړه بهترين دي او د رحمت فرښتے د هغهٔ پهٔ قبر کښې د جَنَّت فرش وغوړوي، د هغهٔ د پاره جَنَّتي جامې راوړي، د نظر د حده پورې د هغهٔ قبر پراخه کړے شي او د جَنَّت يو قنديل [رڼا] د هغهٔ پهٔ قبر کښې ولګولے شي د کوم نه چې هغه د قيامت د ورځې پورې رڼا حاصلوي. (1)

---

1... مکاشفۃ القلوب، باب فی بیان القبر و سوالہ، صفحہ: 247 بتغیر قلیل۔

## دوه تیارې به لرې کیږي

**منقول دي:** **الله** پاک حضرت موسیٰ کلیم الله عَلَیْهِ السَّلَام ته وفرمائیل چې **د مُحَمَّد مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **اُمت** ته دوه نورونه عطا کړے شوي دي د پاره د دې چې هغوئي د دوو تیارو د نقصان نه محفوظ اوسي. موسیٰ کلیمُ الله عَلَیْهِ السَّلَام عرض اوکړو: یا **الله** پاکه! هغه دوه نورونه کوم کوم دي؟ اِرشاد وشو: **د رمضان نُور او د قرآن نُور**. عرض اوکړے شو: دوه تیارې کومې کومې دي؟ اوئې فرمائیل: **یوه د قبر او بله د قیامت**. (1)

## خوشبودار قبر

حضرت عبد الله بن غالب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله دفن کړے شو نو د هغوئي د قبر نه د مشکو خوشبوئي راتلله. یو ځل چا هغوئي په خوب کښې ولیدو او پوښتنه یې ترینه اوکړه: ستاسو د قبر نه خوشبوئي څنګه راځي؟ اوئې فرمائیل: تِلْكَ رَائِحَةُ التِّلَاوَةِ وَالظَّمَاءِ یعنې دا زما د تلاوت او د روژو برکت دے.

نَماز و روزہ و حَج و زکوٰۃ کی توفیق | عطا ہو اُمّتِ محبوب کو سدا یاربّ! (2)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (6): د صبر انوار

په یو اوږد حدیثِ پاک کښې دي: کله چې مړے په قبر کښې کینبودے شي نو ✿ نمونځ د هغهٔ ښي اړخ ته راځي ✿ روژه ګڅ طرف ته ✿ قرآن او ذِکر او اذکار د هغهٔ د سر خوا ته ✿ د هغهٔ د نمونځونو طرف ته تلل د ښپو طرف نه ✿ او صبر د قبر یو ګوټ ته راشي. بیا **الله** پاک عذاب راولیږي ✿ نو نمونځ وائي: وروستو شه دهٔ ټول ژوند

---

1...دُرَّۃُ النّاصحین، صفحہ:9۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:88۔

تکليفونه برداشت کول، اوس پهٔ ارام ملاست دے ❁ بيا عذاب د ګڅ طرف نه راشي روژې هم دغه جواب ورکوي ❁ د سر د اړخ نه چې راشي نو هم دا جواب ميلاؤيږي. بس عذاب د يو طرف نه هم د دهٔ خوا له نشي رسيدے. پهٔ کومه لاره چې ورتلل غواړي د هٰغه طرف نه د **الله** پاک دوست محفوظ مومي ځکه هغه د هٰغه ځائے نه لاړ شي. ❁ هٰغه وخت صبر ټولو اعمالو ته وائي چې ما ځکه څهٔ اونه وئيل **چې که تاسو ټول عاجزه شوي وے نو ما به وئيل، خو زهٔ به اوس پهٔ پل صِراط او پهٔ ميزان باندې د دهٔ پهٔ کار راځم.** (1)

## (7): د جومات د روښانه کولو برکت

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې چا د **الله** پاک جوماتونه روښانه کړل **الله** پاک به د هغهٔ قبر روښانه کړي او چا چې پهٔ دې کښې خوشبوياني کيښودې نو **الله** پاک به پهٔ جَنَّت کښې د هغهٔ د پاره خوشبوئي ورکوي. (2)

## (8): د مريض تپوس

د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے: د **الله** پاک د ټولو نه اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام **الله** پاک ته عرض اوکړو چې د مريض تپوس کوونکي ته څهٔ اجر ميلاؤيږي؟ نو **الله** پاک وفرمائيل: د هغهٔ د پاره به 2 فرښتے مقرر کولے شي کومې چې به د قيامته پورې د هغهٔ پهٔ قبر کښې روزانه د هغهٔ تپوس کوي. (3)

---

1...موسوعہ ابن ابی دنیا، کتاب ذکر الموت، جلد:5، صفحہ:473، رقم:254۔
2...شرح الصدور، الباب الواحد والثلاثون...الخ، صفحہ:116، رقم:11۔
3...شرح الصدور، الباب الواحد والثلاثون...الخ، صفحہ:116، رقم:12۔

## (9): د سورۂ مُلک شریف د لوستلو اِنعام

د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے: کله چې اِنسان په قبر کښې کیښودے شي ❁ نو عذاب به د هغۀ د ښپو د اړخ نه راشي نو د هغه ښپې به وائي: ستا د پاره زما د طرف نه هیڅ لاره نشته، ځکه چې دۀ به پۀ شپه کښې سورۂ مُلك شریف لوستلو ❁ بیا به عذاب د هغۀ د سینې یا د ملا د طرف نه راشي نو هغه به وائي چې ستا د پاره زما د طرف نه هیڅ لاره نشته، ځکه چې دۀ به پۀ شپه کښې سورۂ مُلك شریف لوستلو ❁ بیا به هغه د هغۀ د سر د طرف نه راشي نو سر به وائي چې ستا د پاره زما د طرف نه هیڅ لاره نشته، ځکه چې دۀ به پۀ شپه کښې سورۂ مُلك شریف لوستلو. نو دا سورت منع کوونکے دے، د قبر د عذاب نه حفاظت کوي. په تورات کښې د دې نوم سورۂ مُلْك دے څوک چې دا د شپې وائي ډېر زیات او ښۀ عمل کوي. (1)

## (10): د سورۂ یٰس شریف برکت

پۀ یمن ملک کښې چې خلقو کله یو مړے دفن کړو او واپس کیدل نو هغوئي د قبر نه د وهلو ټکولو اواز واوریدو. بیا ناڅاپه د قبر نه یو تور سپے راښکاره شو. یو ګس ترینه پوښتنه اوکړه: تۀ څوک یې؟ هغه جواب ورکړو: زۀ د مړي بد عمل یم. پوښتنه یې اوکړه: وهلے کیدلے تۀ که مړے؟ هغه ووئیل: هم زۀ وهلے کیدم، سورۂیٰس شریف او نور سورتونه د هغۀ سره وو، هغه زما او د هغۀ پۀ مینځ کښې خنډ [یعني رکاوټ] شول او زۀ یې را وزغلولم. (2)

---

1... مستدرک، کتاب التفسیر، باب المانعة من عذاب القبر، جلد:3، صفحه:322، حدیث:3892۔
2... شرح الصدور، الباب الخامس والثلاثون... الخ، صفحه:134، رقم:11۔

## (11): سورۂ سجده به شفاعت کوي

د حضرت خالد بن مَعدَان رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ نه روايت دے چې سورۂ سجده شريف به پۀ قبر کښې د خپل لوستونکي پۀ باره کښې جګړه کوي او عرض به کوي چې: يا الله پاکه! که زۀ ستا د کتاب نه يم نو د دۀ پۀ باره کښې زما سفارش قبول کړې او که زۀ ستا د کتاب نه نۀ يم نو ما د خپل کتاب نه ختم کړې. سورۂ سجده شريف به د مرغۍ پۀ شان وي او خپلې وَزَرې به پۀ لوستونکي باندې راخورې کړي، د هغه پۀ حق کښې به سفارش کوي او هغه به د قبر د عذاب نه بچ کوي. (1)

## (12): د سورۂ زِلزال شريف د لوستلو برکتونه

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْہما نه روايت دے: چا چې د جُمعې پۀ ورځ د ماښام د نمونځ نه پس دوه رکعته نمونځ اوکړو او پۀ هر رکعت کښې يې د سورۂ فاتحه شريف نه پس سورۂ زِلزال شريف 15 کرته ولوستو نو الله پاک به د ساه وتو پۀ وخت پۀ هغه باندې نرمي فرمائي، او هغه به د قبر د عذاب نه محفوظ کړي (2)

## (13): د سورۂ اِخلاص شريف د لوستلو فائده

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې پۀ مرض المَوت کښې سورۂ اِخلاص شريف ولوستو نو هغه به د قبر د فتنې او د هغې د زوررولو نه محفوظ اوسي. (3)

---

1...در منثور، پاره:21، سورۂ سجدہ، جلد:6، صفحہ:535۔

2...الترغيب للاصفہانی، جلد:1، صفحہ:522، حديث:946۔

3... معجم اوسط، جلد:4، صفحہ:222، حديث:5785۔

## (14): د جُمعې د شپې دُرُود

د دِين بزرګانو رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِم فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او د زيارت په مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف (يعني)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي هغه به د مرګ په وخت کښې د مدينې د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو په وخت کښې هُم، تر دې چې د مدينې سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي. (1)

## (15): د تَهَجُّد نُور

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځل حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته وفرمائيل: کله چې ته چرته په سفر باندې روانيږې نو څومره تيارے کوې! د قيامت د تيارۍ حالت به څهٔ وي! اے ابو ذره! آيا زهٔ تا د داسې څيز نه خبر نهٔ کړم کوم چې تا ته د قيامت په ورځ فائده درکړي؟ حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عرض اوکړو: زما مور پلار دې ستاسو نه قربان شي! ضرور وفرمايئ: نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د سختې ګرمۍ په موسم کښې د حشر د پاره روژه نيسه او د شپې په تيارهٔ کښې دوه رکعتونه کوه د پاره د دې چې قبر دې روښانه شي. (2)

## (16): خَلقو ته د تکليف نهٔ رسولو اِنعام

**په روايت کښې دي:** چا چې خلقو ته د تکليف رسولو نه ډډه اوکړه، **اللّٰه** پاک به

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، صفحہ: 151 ملخصًا۔

2... موسوعہ ابن ابی دنیا، کتاب التہجد و قیام اللیل، جلد: 1، صفحہ: 247، حدیث: 10۔

هغه د قبر د تکليف نه بچ کوي. [1]

## (17): د صدقې ورکولو سره د قبر ګرمي لرې کيږي

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: بے شکه د چا صدقه د هغهٔ د قبر نه ګرمي لرې کوي او د قيامت پهٔ ورځ به مؤمِن د خپلې صدقې پهٔ سوري کښې وي. [2]

## (19): د مسلمان زړهٔ ته د خوشحالۍ داخلولو ثواب

مکي مَدَني، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کوم ګس چې د چا مؤمِن زړهٔ ته خوشحالي داخله کړي الله پاک د هُغه خوشحالۍ نه يوه فرښته پيدا کړي کومه چې د الله پاک پهٔ عبادت او ذِکر کښې مصروفه اوسي. کله چې هُغه اِنسان خپل قبر ته لاړ شي نو هُغه فرښته د هغهٔ خوا له راشي او پوښتنه ترينه کوي: آيا تهٔ ما نهٔ پيژنې؟ هغه وائي تهٔ څوک يې؟ نو هُغه فرښته وائي چې زهٔ هُغه خوشحالي يم کومه چې تا د فلانکي زړهٔ ته داخله کړې وه، نن به ستا پهٔ وحشت کښې زهٔ تا ته مانوسيت [نزدې والے/اشنائي] در رسووم او د سوالونو پهٔ جوابونو کښې به دې ثابت قدم ساتم او تا ته به د قيامت ورځې منظرونه ښايم او ستا د پاره به ستا د رَبّ پهٔ دربار کښې سفارش کووم او تا ته به پهٔ جَنَّت کښې ستا ځائے درښايم. [3]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مرګ نه پس د قبر پهٔ تنهايۍ، وحشتونو، ويرو او تيارو کښې پهٔ کار د راتلونکو اعمالو پهٔ باره کښې مونږه واوريدل ❁ نمونځ ❁ روژه ❁ حج ❁ زکوٰة به پهٔ قبر کښې پهٔ کار راځي، د قبر د عذاب نه به بچ کوي ❁ رمضان

---

1... معجم کبير، جلد:8، صفحه:69، حديث:15316۔

2... معجم کبير، جلد:7، صفحه:140، حديث:14207۔

3... الترغيب والترهيب، کتاب البر والصلة وغيرهما، الترغيب في قضاء...الخ، صفحه:843، حديث:23۔

او قرآن به د قبر او د قیامت تیارې لرې کوي ❀ تِلاوت او روژې به په قبر کښې د خوشبويۍ سبب جوړيږي ❀ صبر به په قبر کښې رڼا کوي او په پل صراط او میزان باندې به په کار راځي ❀ جومات روښانه کول به د قبر د روښانه کولو سبب جوړيږي ❀ د مریض د تپوس کوونکي مسلمان د پاره به دوه فرښتې روزانه په قبر کښې د هغهٔ تپوس کوي ❀ د سورهٔ مُلك شریف تِلاوت به د قبر د عذاب نه بچ کوي ❀ سورهٔ یٰس شریف به د قبر عذاب تښتوي ❀ سورهٔ سجده شریف به د قبر د عذاب نه بچ کوي ❀ د سورهٔ زِلزال شریف د لوستلو په برکت به د ځنکدن سخته اسانيږي، د قبر د عذاب نه به حفاظت او په پل صراط باندې به ثابت قدمي عطا کوي ❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې عمل کول به په قبر کښې د رڼا او د اشنايۍ سبب جوړيږي ❀ د تهجد نمونځ به په قبر کښې رڼا کوي ❀ صدقه به د قبر ګرمي لرې کوي ❀ د مسلمان زړهٔ ته د خوشحالۍ د داخلولو په وجه به د قبر په وحشت کښې اشنائي وي او د نکيرين د سوالونو په جوابونو کښې به ثابت قدمي عطا کوي.

| | |
|---|---|
| جوابِ قبر میں مُنکَر نکیر کو دوں گا | ترے کرم سے اگر حوصلہ ملا یا ربّ! |

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د اِعتکاف ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن شبِ براءَت دہ، د دې نيکو اعمالو د اِختيارولو نيت اوکړئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت هُم تشریف راوړونکې ده.

| | |
|---|---|
| عَجِّلْ عَجِّلْ یَا رمضان | جان مری تجھ پر قربان |
| آبھی جا ماہِ سُبْحٰن | جلدی جلدی آ رمضان |
| جب بھی آتا ہے رمضان | جان میں آجاتی ہے جان |

خوب ہے رمضاں کی بھی شان | اِس میں اُترا ہے قرآن
مجھ کو مدینے میں رمضان | کاش! میسر ہو رحمٰن
آجا آ بھی جا رمضان | تجھ پہ فدا عطّار کی جان

**الله** پاک دې زمونږ د رَمَضَانُ المُبَارَک د میاشتې لیدل، په دې کښې د پوره روژو نیولو، د ښهٔ ډیر عبادت کولو توفیق رانصیب کړي. د رَمَضَانُ المُبَارَک د میاشتې یو ډیر اهم عبادت اِعتکاف هم دے. نفلي اِعتکاف خو هر وخت کیدے شي خو کوم اِعتکاف چې سُنَّتِ مؤکده دے، هغه هُم په **رَمَضَانُ المُبَارَك شريف** کښې کیږي. د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د ټول **رَمَضَانُ المُبَارَك شريف** اِعتکاف کول هم ثابت دي او د اخرۍ عشرې اِعتکاف خو زمونږه د آقا و مولیٰ، تاجدارِ انبیا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر خوښ وو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اخرۍ عشرې د اِعتکاف ډیر اهتمام فرمائیلو. د دې پورې چې یو ځل یـې په څهٔ وجه په **رَمَضَانُ المُبَارَك شريف** کښې اِعتکاف اونکړے شو نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شوال کښې اِعتکاف وفرمائیلو. [1]

## د اِعتکاف فضیلتونه

❁ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّیقه، طیبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا نه روایت دے: **مَنْ اِعْتَكَفَ اِيْمَانًا وَّاِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ** یعني چا چې د ایمان سره او د ثواب حاصلولو په نیت اِعتکاف اوکړو د هغهٔ تیر شوي ګناهونه به اوبخښلے شي. [2] ❁

**په یو بل روایت کښې دي:** چا چې په **رَمَضَانُ المُبَارَك شريف** کښې 10 ورځې اِعتکاف

---

1... بخاری، کتاب الاِعتکاف، باب الاعتکاف فی الشوال، صفحه:533، حدیث:2041۔

2... جَامِع صغیر، صفحه:516، حدیث:8480۔

اوکړو هغه داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يې اوکړې. [1]

## د اِجتماعي سُنَّت اِعتکاف ترغيب

خوېندو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوت اسلامي په ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رَمَضَانُ المُبَارَک د فيضان موندلو، د ګناهونو نه د بچ کېدو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړېدو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د اِنتظام لاندې په ټوله دنيا کښې په زرګونو ځايونو کښې اجتماعي اعتکاف هم کولے شي، تاسو هم کوشش اوکړئ چې د روژې د ټولې مياشتې د اعتکاف سعادت حاصل کړئ! بلکې په عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچۍ) کښې اعتکاف اوکړئ! چې هلته به مو د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د وخت د يو کامِل وَلي سره د اعتکاف کولو سعادت نصيب شي نو د دې برکتونه به هُم جدا وي. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې به د ګناهونو نه د بچ کېدو، د نيکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زياتېدو سره سره ډېر عِلمِ دِين هم زده کړئ.

## د شعبان د روژو فضيلت

خوېندو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شعبان شريف مياشت جارى ده. دا مياشت د ډېرو برکتونو او عظمتونو والا ده. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم به په دې مياشت کښې په کثرت سره نفل روژې نيولې. د مسلمانانو محترمه مورجانه

---

1... جَامِع صغِير، صفحه:516، حديث:8479۔

حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰہُ عنہا فرمائي: ما خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم د **شعبان شریف** نه زیات په بله میاشت کښې روژې نیولو باندې نهٔ دے لیدلے، خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم به د یو څو ورځو نه علاوه تقریباً پوره میاشت روژې نیولې. (1)

یو ځل د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم په خدمت کښې پوښتنه وشوه چې: د رمضان نه پس کومې روژې افضل دي؟ ویې فرمایل: **د رمضان د تعظیم دپاره په شعبان کښې روژې نیول.** (2)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! سبا پینځلسم شعبان شریف دے. خوش نصیبه اسلامي ورونړه دي د 15 شعبان د روژې نیولو سعادت حاصل کړي. زمونږ خوږ آقا، د مدینې والا مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم فرمائیلي دي: کله چې د شعبان مینځنۍ شپه (یعنې 15مه شپه) راشي، نو په هغې شپه کښې قیام (عبادت) کوئ او د ورځې روژه ونیسئ. (3) چا نه چې کیدے شي هغوئي دې ضرور روژه ونیسي. اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راکړي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د عاشقانِ رسول دیني تحریک "دعوتِ اسلامي" په دیني ماحول کښې د شعبان شریف د روژو سپرلے دے، په مختلفو ځایونو کښې د سحري (پیشمني) د اجتماعاتو اهتمام هم کیږي. مَاشَآءَ اللّٰہ! ډیر عاشقانِ رسول د روژو نیولو سعادت حاصلوي. تاسو هم د نفل روژو په دې تحریک کښې شامل شئ، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د شعبان شریف ډیر برکتونه به مو نصیب شي. اللّٰه پاک دې مونږ ټولو ته د

---

1 ...ترمذی، کتاب الصوم، باب ماجاء فی وصال شعبان برمضان، صفحہ:206، حدیث:736-

2 ...ترمذی، کتاب: زکوۃ، باب: فضیلتِ صدقہ، صفحہ:189، حدیث:663-

3 ...ابن ماجہ، کتاب اقامۃ الصلاۃ والسنۃ فیہا، باب ماجاء فی لیلۃ...الخ، صفحہ:225، حدیث:1388-

عمل توفيق رانصيب کړي. آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين پۀ خدمت کښې مصروف دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❀ د کنزُ الـمدارس بورډ (*Kanzul Madrasah Board*) پۀ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❀ پۀ زرګونو جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو *(Boys & Girls)* د پاره قائم دي، پۀ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات *(Specialization)* او فرض علوم کورسز کولے شي ❀ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره پۀ لکونو کښې ده ❀ د زيات عمر اِسلامي ورونړو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره پۀ زرګونو مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د لوستونکو اِسلامي ورونړو او خوئيندو شميره پۀ لکونو کښې ده ❀ د فيضان آن لائن اکيډمي (*Faizan Online Academy*) پۀ ذريعه دِيني تعليم ورکړے کيږي ❀ د دِيني او شرعي لار ښودنې د پاره دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي ❀ د الـمدينةُ العلميه *(Islamic Research Center)* پۀ ذريعه پۀ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، ❀ د دِيني لټريچر د چاپ کولو د پاره چاپ کوونکې اداره الـمدينةُ العلميه جوړه کړے شوي ده ❀ پۀ ټوله دُنيا کښې د دِيني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظيمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله د مرکزي مجلسِ شوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❀ د عاشقانِ رسول پۀ تربيت

کولو هغوئي د دِيني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے کيږي، هغوئي ته باقاعده تنخوا ګاني ورکړے کيږي او هغوئي فارِغ البَال (يعني د ګټې وَټې نه پهٔ بے پروا کيدو) د دِين خِدمت کوي ❀ د ميډيا پهٔ مختلف پليټ فارمز باندې هم د دِين د خِدمت سلسله روانه ده ❀ پهٔ پرنټ ميډيا (کښې د ډيرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فيضانِ مدينه د چاپ کولو سلسله جاري ده کومه چې دا وخت د دُنيا پهٔ 7 ژبو کښې ډيره چاپ کيدونکې ماهنامه ده) ❀ پهٔ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب ***(YouTube)***، فيس بُک ***(Facebook)***، انسټا ګرام ***(Instagram)*** وغيره) باندې تقريبا 7 کروړه فالورز (***Followers***) دي او د ويوز شميره پهٔ بلينز (***Billions***) کښې ده ❀ د دې نه علاوه د مَدَني چينل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل پهٔ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي.

تاسو هم د دِين د خِدمت پهٔ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده يعني ډونيشن پهٔ هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې، پهٔ ښو او د امدن زياتولو پهٔ جائز او محفوظو کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي.

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: جامعةُ المدينه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ حديثِ پاک کښې دي: عالِم جوړ شه! طالِبِ عِلم

جوړ شه! یا (کم از کم) د علماؤ سره محبت کوونکے جوړ شه! څلورم مهٔ جوړیږه ګني هلاک به شې. [1] ګویا دِین زده کول، ښودل او د داسې خلقو سره محبت کول د هلاکت نه د بچ کیدو حل دے.

د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي ❁ د عِلمِ دِین د نُور تقسیمولو ❁ د معاشرې د اِصلاح کولو ❁ د خلقو د عقیدو او اعمالو د اِصلاح کولو ❁ او د عشقِ رسول د جامونو څښولو سره سره اُمت ته د با عمله عالمانو ورکولو لړ کښې هم مصروف دے. د دې مقصد د پاره پهٔ ملک او بهر ملکونو کښې د **شعبه جامعةُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز)** لاندې د 1500 نه زیات جامعةُ الـمدينه جوړ کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې د یو لاکھ28 زرو نه زیات زنانه او نارینه طالبِ عِلمان عِلمِ دِین حاصلوي.

د دې شعبې لاندې ❁ درسِ نظامي (عالِم کورس) ❁ مختلف تَخَصُّصَات (*Specialization*) مثلاً اَلتَّخَصُّصُ فِی الحَدِيثِ وَعُلُومِهِ، اَلتَّخَصُّصُ فِی الفِقْهِ الحَنَفِيّ (یعني مفتي کورس)، اَلتَّخَصُّصُ فِی الفِقْهِ الحَنَفِيّ وَالِاقْتِصَادِ الإِسْلَامِيِّ (یعني اِسلامي معیشت کورس)، اَلتَّخَصُّصُ فِی العُلُومِ العَرَبِيَّة (یعني پهٔ عربی ژبه کښې مهارت)، اَلتَّخَصُّصُ فِی الفُنُونِ (یعني پهٔ مختلفو علومو کښې مهارت)، اَلتَّخَصُّصُ فِی التَّوْقِيتِ (یعني د توقیت پهٔ عِلم کښې مهارت)، فیضانِ شریعت کورس، امامت کورس وغیره کولے شي. ❁ طالبِ علمانو ته د هاسټل او میس او د طِبي عِلاج اسانۍ هم ویړیا ورکولے شي ❁ قابلو طالبِ علمانو ته سکالر شپس (یعني وظیفې) هم ورکولے شي.

ماشومانو ته ❁ د دِیني او دُنیائي تعلیم ورکولو، ❁ د دوئي د باطِني تربیت کولو، ❁ د سُنّتو نمونې جوړولو او ❁ د نیک او اخلاقي جوړولو د پاره دوئي پهٔ جامعة الـمدينه

1... دارمي، صفحه:96، حديث:254۔

کښې داخل کړئ. د جامعة الـمدينه داخلې به د **يکم رمضان شريف** نه واخله تر **10 شوال شريف** پورې جارې وې.

اللہ پاک دې زمونږ دعوتِ اِسلامي ته ډيره ترقي عطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د مختلف موبائل ايپلي کيشنز تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم د عِلمِ دِين د زده کولو او د نيکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي. د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير د معلوماتو او علم نه ډک موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي. مثلاً: ❀ صراط الـجنان قرآن اينډ تفسير: په کوم کښې چې ❀ پوره قرآنِ کريم ❀ ترجمۂ کنز الايمان ❀ اسانه ترجمه کنز العرفان او ❀ په اسان انداز کښې ليکلے شوے تفسير صراط الـجنان شامل دے. ❀ فيضانِ حديث: په کوم کښې چې د حديثِ پاک مختلف کتابونه، مثلاً: ❀ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ❀ الأربَعِيْنِ النّوويَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ رِيَاضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ❀ او مُنْتَخَب اَحَادِيث (اُردو) اَنوَارُ الحَدِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي. ❀ دار الافتاء اهلسُنَّت: په دې ايپلي کيشن کښې به تاسو ته ميلاؤ شي: د ډيرو مذهبي (***Religious***) او معاشرتي (***Social***) سوالونو ليکلي فتاوىٰ ❀ د عقيدو ❀ قرآن او حديث ❀ اودس، غسل او ناپاکۍ ❀ کفن دفن په باره کښې د مسئلو نه علاوه ډير څۀ ❀ اِسلامک اِي بُکس لائبريري: دا ايپلي کيشن لکه چې عِلمي خزانه ده ❀ د کوم نه چې په اُردو، انګريزۍ او نورو ډيرو ژبو کښې په زرګونو اِسلامي کتابونه فري ډاؤن لوډ کيدے شي ❀ کتابونه د ډاؤن لوډ کيدو په ذريعه د آف لائن لوستلو د پاره د پي ډي ايف په ذاتي لائبريرۍ کښې

محفوظ کيدے هم شي. دا ټول ايپلي کيشنز پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِين زده کړئ او نورو ته يـې ورسوئ او د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب حاصل کړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اعلانونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! يو څو ضروري اعلانونه واورئ! ❁شبِ براءَت❁ د مغفرت ❁رحمت او بخښنې عظيمه شپه! د دې بابرکتې شپې په مناسبت د مکتبةُ المدينه له طرفه ستاسو دپاره درې ډېرې اهمې او ايمان تازه کوونکې رسالې وړاندې کيږي: (1): **يٰسين شريف**: په کومه کښې چې د يٰسين شريف لوستلو فضايل بيان شوي دي. (2): **فيضانِ يٰسين**: په کومه کښې چې د يٰسين شريف سره سره په شبِ براءَت کښې لوستل کېدونکې مسنونه دعا هم شامله ده. (3): **د قبر والو 25 حکايتونه.**

تاسو **رساله** ❁**يٰسين شريف** په 60 روپۍ ❁**رساله فيضانِ يٰسين**: لوئ سايز په 30 روپۍ او وړوکے سايز په 25 روپۍ ❁**رساله قبر والوں کی 25 حکايات په** 17 روپۍ هديه غوښتلے شئ.

صَلُّوا عَلَي الحَبِيب! صَلَّي اللهُ تَعالٰي عَلي مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي. (1)

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## کم خوراک کول سُنَّت دے

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** کله چې اِنسان په خپل خوراک کښې کمے کوي نو د هغهٔ سینه د نُور نه ډکولے شي. (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** ❁ زمونږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د لوږې نه کم خوراک کولو ❁ نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې په دنیا کښې تشریف فرما وو، چرې یې هم پرله پسې 2 شپې په مړه خیټه نهٔ وه خوړلي (2) ❁ رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د لوږې په وجه په خیټه مبارکه پسې کاڼي تړل. (3)

**د خوراک د مِقدار په باره کښې حکمونه:** ❁ د لوږې ساتلو سره خوراک کول پکار دے ❁ چې څومره لوږه وي، هغه همره خوړل مُبَاح دي (یعني په دې کښې نهٔ ګناه شته او نهٔ ثواب) ❁ دومره په مَړه خیټه خوړل چې د خیټې خرابیدو ګمان وي، حرام دي ❁دومره په مړه خیټه خوړل چې د خیټې خرابیدو اندیښنه نهٔ وي، مکروه دي ❁ په

---

1...جامع صغیر، صفحه:35، حدیث:469۔

2...شمائل ترمذی، باب ماجاء صفة خبز رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:129، حدیث:150۔

3...ترمذی، کتاب الزہد، باب ما جاء فی معیشة...الخ، صفحه:565، حدیث:2371 مفهوماً۔

خوراک کښې دومره کمے راوستل چې په فرائضو ادا کولو کښې خنډ [يعني رکاوټ] شي، جائز نۀ دي. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رَحمت کُھلیں، قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1...بهارِ شَرِیْعت، حصه:16، جلد:3، صفحه:374 ملخصًا.